رسول الله صلى الله عليه وسلم مور ته بهر راووت نو ويې فرمايل: اى د الله جل جلاله رسوله، يقينا دا مو زده کړى چې څرنګه پر تا سلام ووايو، خو درود درباندې څنګه ووايو؟

له عبدالرحمن بن ابي ليلى څخه روايت دى، وايي چې: کعب بن عجره راسره مخ شو، نو ويې ويېل: ايا زه تاته ډالۍ در نه کړم؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم مور ته بهر راووت نو ويې فرمايل: اى د الله جل جلاله رسوله، يقينا دا مو زده کړى چې څرنګه پر تا سلام ووايو، خو درود درباندې څنګه ووايو؟ ويې فرمايل: « نو وايئ: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».«يا الله! پر محمد - صلى الله عليه وسلم - او د هغه پرکورنۍ رحمت ووروه، لکه پر ابراهيم -عليه السلام- او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولى و، بېشکه ته ستايل شوى او لوى يې. يا الله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه ووروه، لکه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولي و، بېشکه ته ستايل شوى او لوى يې.»

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

صحابه کرامو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې پر هغه څنګه درود ووايي؟ وروسته له دې چې په التحيات کې يې پرې سلام اچول زده کړي وو: "السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته..."؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوى ته د درود ويېلو او معنى په اړه يې خبر ورکړ: "اللهم صلِّ على محمدٍ وعلى آل محمد" «اې الله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پرکورنۍ رحمت ووروه». يعني: په لوړ مجلس کې يې په ښايسته وينا سره ياد کړه، او په دين کې د هغه د پيروانو او له خپلوانو څخه يې د مؤمنانو تر منځه. "كما صلَّيتَ على آل ابراهيم پر کورنۍ درود ويلى دى" لکه څنګه چې تا د ابراهيم عليه السلام پر کورنۍ،إبراهيم" "لکه څنګه دې چې د اسماعيل، اسحاق او د هغوى په اولاده او د هغوى په وفادارو پيروانو خپل احسانونه نازل کړي دي،يعنى ابراهيم، همدغسې په محمد صلى الله عليه وسلم باندې هم خپل رحمت نازل کړه. "إنك حميد مجيد" "په يقين سره چې ته ستايل شوى او شرافت والا ذات يې" يعني: هغه چې په خپل ذات، صفاتو او کړنو کې ستايل شوى يې، او په عظمت، واکمنۍ او سخاوت کې پراخه يې. "اللهم بارك على محمدٍ وعلى آل محمد كما باركتَ على آل إبراهيم" «اى الله! برکت نازل کړه پر محمد صلى الله عليه وسلم او د محمد صلى الله عليه وسلم پر آل باندې، لکه څنګه چې دې برکت نازل کړى د ابراهيم عليه السلام پر آل باندې». يعني هغه ته تر ټولو لوى خير او شرف ورکړه او ورته يې زيات او ثابت کړه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5377